# دوک، ماکو او ستن



یو وخت یوه وړه نجلۍ وه. دې نجلۍ خپله مور نه لرله او یوې زړې ښځې دا نجلۍ لوی کړې وه. دې دواړو د یو کلي په څنډه د سیند په غاړه یو وړوکي کور کې ژوند کاوه. دې دواړو د ژواندانه د پاره پیسې د څرښې، اوبدلو او ګنډلو له لارې پیدا کولې. دا نجلۍ د خپلې مورخواندې تر څارنې لاندې ډېره هوښیاره لویدله. کله چې دا نجلۍ پوره د شپاړلسو (16) کالو شوه، ددې مورخوانده ډېره سخته رنځوره شوه. مخکې له دې چې دا مړه شي، نو د خپلې لور په غوږ کې یوه وړه مسته سندره وویله. دا سندره ددې نجلۍ هیڅکله هم د یاده نه اوځي. مورخوانده یې د سندرې سره سم وویل: « ستا په سر به تل یو بام اوسي او په کافي اندازه به خوراک ولرې، نو ځکه زه خپل دوک، ماکو او ستن تا ته پرېږدم.»

په اولو کې دې نجلۍ خپل ځان ډېر یواځې احساسولو، خو دې خپل وختونه په اوبدلو او ګنډلو تېرولې. هغه ټوکران چې دورځې له خوانه دې اوبدلي وو، دشپې له خوانه به یې ورځخه ښکلي جامې ګنډلې. دا چې دا جامې به ډېر ښکلي ګنډل کېدل، نو ددې په مقابل کې به دې ښې پیسې

ترلاسه کول. سره ددې چې دا نجلۍ ډېره کمینه وه، نو دې سره یې ډېر یو مهربانه زړه هم لرلو. دې به د خپلو په خوارۍ ګټلو پېسو څخه په کلي کې بې وزلو او رنځورانو سره مرسته هم کوله. بل اخره دا نجلۍ دومره بې وزلې یا غریبه شوه، لکه د کلیسا موږک په شان. خو بیا هم دا په خپل ژوند ډېره خوشحاله وه او په کلي کې د هر چا خوښېدله.



په دغه وخت کې يو شهزاده د خپل هيواد په کلو او ښارونو کې، چېرته چې پلار يې پاچاوو، د يوې مېرمنې په لټه کې وو. مخکې د دې نه چې هغه د مېرمنې په لټه کې شي، دې د يو هوښيار سړي څخه مشوره واخسته. هوښيار سړي ورته وويل: «ته بايد داسې يوه مېرمن ولټوې، چې هغه هم بې وزله يا غريبه وي او هم مالداره.»

شهزاده ته دا څرګنده شوه چې دا ډېر ګران کار دی چې په دې مشورې عمل وکړم. کله چې شهزاده د دغې نجلۍ کلي ته راغی، نو لا يې د دې د خوښې کومه مېرمن نه وه پېدا کړې. شهزاده د يوې وينځې يا کنيزې څخه وپوښتل چې چېرته هغه يوه مېرمن چې هم بې وزله او هم مالداره وي، پېدا کولای شي. دې کنيزې وويل: «ښاغلی ځوانه! د ټولو نه مالداره دلته په کلي کې بې د شکه د يو تجار لور ده. او د ټولو نه بې وزله تاسې کولائ شی چې د سيند په غاړه يوه وړه کوټنۍ ده، او هلته به يې پېدا کړی.»



شهزاده د دغې وينځې څخه په ډېر ادب مننه وکړه، او د مالدار تجار لور کور ته روان شو.

شهزاده ولیدل چې دا مالداره نجلۍ د کور په حویلۍ کې ناسته ده، لاسونه يې په غیږ کې سره ترلي نیولي وو. هغې ښکلي جامې اچولي وو او ښکلي د پستې ځرمنې څخه بوټان يې په پښو کې وو. کله چې د نجلۍ خپلو خدمتګارو ته په تېز او قهرجن اواز سره غږ وکړ، نو دلته شهزاده پوه شو چې دا یوه ډېره بدمزاجه نجلۍ ده.



شهزاده د تېرېدو په وخت کې دې نجلۍ ته په ډېر احترام خپله خولۍ وویسته او سلام يې وکړ او په خپله لار د بلې وړې کوټنۍ په لټون، کوم چې د سیند په غاړه وو او دا بې وزله نجلۍ پکې اوسېده، روان شو.

دا بې وزله یا غریبه نجلۍ لکه د تجار لور په شان بېکاره او تنبله په حوېلۍ کې ناسته نه وه. شهزاده د کړکۍ څخه ولیدل چې دا نجلۍ څرخې ته ناسته ده. په دغه وخت کې د لمر وړانګې د نجلۍ په سترګو ولګېدې. کله چې نجلۍ کړکۍ ته وکتل، ګوري چې یو څوک د کړکۍ څخه دې ته ګوري. دا چې شهزاده ډېر ښکلی وو، د بې وزلې نجلۍ مخ تک سور شو او لاړې یې تېرې کړې، سترګې یې ښکته واچولې او خپل کار ته یې دوام ورکړ. کله چې دې نجلۍ د اس د پښنو کړپاری واورېدل چې شهزاده ولاړو، نو دې دروازې ته را منډه کړه او هغې ته یې تر هغه کتل، چې د سترګو پناه شو. په ډېر سوړ اسویلي سره دا نجلۍ بېرته خپلې څرخې ته کښېناسته.



خو کله چې نجلۍ څرخې ته کښېناسته، نو بیا د دغې ښکلي پردي ځوان په فکر کې شوه چې دا حتماً د یو اصیلې وینې څخه به وي. په دغه وخت کې د مور خواندې د سندرې هغه دوه اولني کرښې یې په یاد راغلې، کوم چې دې نجلۍ ته یې ور زده کړې وې:

« دوک دوک تاوېږه په کړندۍ سره
تر هغه چې ماته زما مین پیدا شي.»



کله چې نجلۍ دا سندره وویله، نو په دغه وختکې دوک ددې د لاسونو څخه ټوپ کړ او د دروازې څخه ووت ، په تېز تېز تاوېدو سره دا د پټو څخه هم تېر شو . په دغه وخت کې دې تار طلايي رنګ واخست او لاره يې ټوله طلايي ننبه کړه.



کله چې دا دوک نور په سترګو نه لیدل کېده، نجلي ماکو واخست چې په اوبدلو شروع کړي. دلته دوک تر هغه په تاوېدو روان وو، چې تر څو شهزاده ته ورسېد. آس د دوک ليدلو سره ځای په ځای ودرېد . دلته شهزاده فکر وکړ، که زه دغه د سروزرو تار تعقيب کړم، کېدی شي چې زه به خپلې مېرمنې ته ورسېږم. شهزاده خپل آس مخ را وګرځولو او د طلايي تار په تعقيب کې شو. دې تار شهزاده د پټو ، ځنګلونو ويالو او کتارو څخه د تېرېدو لارښوونه کوله، تر هغه چې بېرته هغه کلي ته يې ورسولو ، کوم چې دا ورڅخه تېر شوی وو . دې طلايي تار نور هم وړاندې شهزاده ته لارښوونه وکړه، تر هغه چې د سيند په غاړه وړوکي کوټنۍ ته ورسېد .

دغې نجلۍ په خپل وړوکي کوټګي کې د خپل ماکو سره په کار اخته وه، په دغه وخت کې د هغې د مورخواندې د سندرې دوه نورې کرښې را په يادې شوې، کوم چې دې ورڅخه زده کړې وې:

«ماکو ګۍ ماته وا وبده يوه ښکلې او پسته،
قالينه زما د راتلونکي ژوند خاوند د پاره.»



په یو دم ماکو د نجلۍ له لاسه وښوئیده او دروازې ته یې ځان ورسولو او د هغه ځایه په قالینې اوبدلو پیل وکړ، هغه قالینه کوم چې دې نجلۍ پخوا لیدلې وه. په دې قالینې د مېور (طاوس)، بتو، ونو انځورونه په روښانه رنګ او ګلان دحده ډېر ډولونو او شکلونو نه اوبدل شوي وو. ډېر ژر ټوله کوټنۍ مکمل د دغې قالینې سره فرشه شوه.

کله چې نجلۍ د ماکو دا حېرانونکې کار ولید، بیا یې ستن راواخسته او په ګنډلو سره یې د سندرې دا وروستي دوه کرښې هم وویلې:

« ستنې ستنې وړې او تېرې

زما راتلونکي مینې ته کړه دا کور ښکلې.»



یو دم ستن د نجلۍ له لاسو ټوپ کړ او د برېښنا غونډې د کوټې هرې خوا ته رسېدله. دې ستنې د سترګو په رپ کې سرمیزي، د چوکۍ ګانو د پاره د ورېښمینو ښکلي پوښونه او بالښتونه او ډېر پاسته پردې د کړکړۍ ګانو د پاره وګنډل. په لنډ وخت کې دا داسې ښکارېده لکه په هیواد کې یو قصر. کله چې نجلۍ د کوټې شا و خوا ته نظر وکړ، نو د خپلې مور خواندې څخه یې د دوک، ماکو او ستنې مننه وکړه. په همدې وخت کې شهزاده د کوټې دروازې ته ورسېد. شهزاده د طلایي تار په تعقیب دې کوټنۍ ته رسېدلی وو. هغه کوټې ته ننوت او پر قالینې قدم واخست. شهزاده د کوټنۍ ته په حېرانۍ سره کتل. دا یو ښکلی حقیقي قصر ښکارېده. د کوټې دننه نجلۍ ولاړه وه او شهزاده ته په مسکا شوه خو د شرمه مخ یې تک سور شو.



شهزاده په خوښۍ سره وویل: «ما د پلار په ټوله پاچاهي کې داسې یوه نجلۍ لټوله، چې هغه هم مالداره وي او هم بې وزله، او دادی ما هغه بل اخره پیدا کړه. ته غواړې چې ما سره راشې او زما مېرمنه شې؟»



کله چې شهزاده دا وویل، نو نجلۍ دومره خوشحاله شوه چې د خوښۍ نه هیڅ خبرې یې نه شو کولای. خو هغې خپل سر د هو په ویلو ټیټ کړ او خپل لاسونه یې شهزاده ته مخکې کړې. ددې نجلۍ شهزاده د هغه وخت نه خوښ شوی وو، کله چې نجلۍ د کړکۍ څخه هغه ولید. شهزاده نجلۍ د ځان سره پر آس سپره کړه او د پاچاهي قصر په لور روان شول. په لاره کې د کلي ټولو خلکو د خوښۍ نارې وهلې. په قصر کې ددې دواړه د واده ډېر ښه او ښکلی مراسم ونیول شو. دوک، ماکو او ستن پر یو ښکلي او وریښمینې بالښتونو د کار کوونکو له خوا نه راوړل شول، کوم چې شهزاده ته د مېرمنې په پېدا کولو کې مرسته کړې وه. وروسته دا بیا په خزانه کې کښېښودل شول او شهزادګۍ تر هغه ددې پالنه کوله، ترڅو هغه ژوندۍ وه.



د الماني نکلونو څخه ژباړه
دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی